قرآني بيان

# د کامیابۍ درې اُصُول

د مَدَني مرکزونو (فيضانِ مدينه) او د شعبه امامِ مساجد (دعوتِ اسلامي)
لاندې جوماتونو د پاره

په 10 اکتوبر، کال 2025ء (بمطابق: 16 ربيع الآخر، کال 1447ھ)

## د جُمعَةُ المبارک



د مَدَني مرکزونو (فيضانِ مدينه) او د شعبه اِمام مساجد (دعوتِ اِسلامي) لاندې جوماتونو د پاره

په 10 اکتوبر، کال 2025ء (بمطابق: 16 ربيع الآخر، کال 1447ھ) د جُمعَةُ الـمبارک

قرآني بيان

په نوم

# د کاميابۍ درې اُصول

په دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- ــــ اِنعام هم ميلاؤ شو او سزا هم ميلاؤ شوه
- ــــ د غار نه نجات څنګ حاصل شو---؟
- ــــ د دُنيا د ټولو نه وړومبۍ کاميابي څنګه حاصله کړے شوه؟
- ــــ چې هر څۀ په قِسمت کښې ليکلے شوي دي نو پير ولې---؟

پيشکش

اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَة
Islamic Research Center
(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اسلامی)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ ؕ وَ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖن ؕ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْم ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْم ؕ

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ الله وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ الله

نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِکَاف (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِیَّت اوکړو)

## د دُرُودِ پاک فضیلت

علامه يُوسُف بن اسماعيل نبهاني رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه ډير لوئي عاشقِ رسول دے، هغوئي د درودِ پاک پهٔ فضيلت باندې ډير کتابونه ليکلي دي، هغوئي پخپله خپله واقعه ليکلې ده چې يو ځل چا پهٔ ما باندې د دروغو الزام ولګولو، د دې الزام پهٔ وجه د وخت سلطان زما خلاف حکم وکړو چې دا دې د ښار نه ويستلے شي- پهٔ دې اوريدو زهٔ ډير پريشانه شوم، دا د زيارت ورځ وه، نو د جُمعې پهٔ شپه ما زر [1000] کرته اِستغفار ولوستو، بيا مې 350 کرته داسې درود شريف ولوستو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰی آلِ سَیِّدِنَا مُحَمَّدٍ قَدْ ضَاقَتْ حِیْلَتِیْ اَدْرِکْنِیْ یَا رَسُوْلَ الله

دا مې ولوستل او اودهٔ شوم، بيا د تهجدو پهٔ وخت راپاځيدم او بيا مې زر [1000] کرته درود شريف ولوستو، بيا مې استغاثه وکړه، د دې برکت دا ظاهر شو چې هُم پهٔ بله ورځ زما بے ګناهي ثابت شوه او خليفه پهٔ خط راليږلو زما د بے ګناهۍ اِظهار وکړو- (1)

| | |
|---|---|
| نبی کے صدقہ تمہاری مراد ہو حاصل | دعا کے اول و آخر اگر درود پڑھو |
| رہو گے حفظِ الٰہی میں رات دن محفوظ | رسول پاک پر شام و سحر درود پڑھو |

---

1 ... سعادة الدارين، الباب العاشر فی فوائد...الخ، فصل فی الاستغاثة...الخ، صفحه:487 ملتقطًا۔

ہزار درد کو یہ ایک دوا کفایت ہے | جو پیش آئے ذرا بھی خطرہ درود پڑھو(1)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

قَالَ اللہُ تَبَارَکَ وَتَعَالٰی فِی الْقُرْاٰنِ الْکَرِیْم (الله پاک پۀ قرآنِ کريم کښې فرمائي):

یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَ ابْتَغُوْۤا اِلَیْهِ الْوَسِیْلَةَ وَ جَاهِدُوْا فِیْ سَبِیْلِهٖ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ(۳۵)

(پارہ:6، سورۂ مائدہ:35)

صَدَقَ اللہُ الْعَظِیْم وَصَدَقَ رَسُوْلُہُ النَّبِیُّ الْکَرِیْم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! مونږ د شپږمې سيپارې د سورۀ مائده آيت: 35 د اوريدو سعادت حاصل کړو- پۀ دې آيت مبارک کښې د نجات او کاميابۍ درې اهم اُصول بيان کړے شو-

## د آيت مبارک مختصر وضاحت

ارشاد دے:

یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ | ترجمۂ کنزُالعِرفان: اے ايمان والؤ! د الله نه ويريږئ-

دا د کاميابۍ وړومبے اُصول دے: تقوىٰ اختيارول- که مونږ هر قِسمه کار کول غواړو، پۀ هغې کښې زمونږ کاميابي پکار وي او مستقل کاميابي پکار وي، داسې کاميابي کومه چې صرف د دُنيا تر حده پورې نۀ وي بلکې پۀ اخرت کښې هم پۀ کار راشي، د داسې کاميابۍ د پاره دې پۀ هٔغه کار کښې تقوىٰ اِختيار کړے شي- مثلاً ❀ تاسو څۀ کاروبار کول غواړئ ❀ پۀ هغې کښې د سود د لين دين نه ځان ساتئ ❀ خلقو له د دوکې ورکولو نه ځان ساتئ ❀ د دروغو وئيلو او د دروغو قَسمونو د خوړلو نه ځان ساتئ ❀ پۀ ناپ تول

1...نور ايمان، صفحه:57 ملتقطًا-

کښې د کمې نه ځان ساتئ ❁ هم داسې د تعليم معامله ده، تاسو تعليم حاصلوئ، که غوارئ چې په تعليم کښې کاميابي حاصله کړو، ستاسو تعليم ستاسو د پاره د دُنيا او د اخرت د کاميابۍ ذريعه جوړه شي ❁ په دې کښې د ګناهونو نه ځان ساتئ ❁ په امتحانونو کښې د نقل نه ځان ساتئ ❁ د اِسلام خلاف خبرو د لوستو، اوريدو، نورو ته د رسولو نه ځان ساتئ ❁ هم داسې د وادهٔ ښادۍ معامله ده، په هغې کښې د ګناهونو نه ځان ساتئ ❁ د ډولونو تماشو نه ځان ساتئ ❁ د ګډا رنګينه محفلونه مهٔ جوړئ، غرض چې مونږ څهٔ کار هم کوو، که مونږ غواړو چې په هغې کښې زمونږ مستقل کاميابي نصيب شي، داسې کاميابي چې د دُنيا سره سره په اخرت کښې هم پکار راشي، د هغې د پاره **د تولو نه وړومبے اُصُول دا دے** چې په هُغه کار کښې خومره هم د ګناهونو والا اړخونه جوړيږي، د هغې نه مونږ ځان وساتو- که مونږ داسې وکړو نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيْم! زمونږ به کاميابي نصيب شي- اللّٰه پاک نور فرمائي:

وَ ابْتَغُوْۤا اِلَیْهِ الْوَسِیْلَةَ | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: او د هغهٔ طرف ته وسيله ولټوئ-

**دا د کاميابۍ دويم اُصُول دے:** د اللّٰه پاک په حُضُور کښې وسيله لټول- دا دُنيا **دَارُ الاَسبَاب** ده- اللّٰه پاک دا دُنيا هم داسې جوړه کړې ده چې دلته مونږ هيڅ کار بغير د وسيلې نه نشو کولے ❁ مونږ دُنيا ته راغلو د مور او پلار په وسيله باندې ❁ عِلم زده کوو د اُستاذ په وسيله باندې ❁ مال او دولت او رزق وغيره ميلاوېږي د کاروبار په وسيله باندې ❁ شِفا نصيب کيږي د حکيمانو طبيبانو په وسيله باندې ❁ تر دې پورې چې اللّٰه پاک مونږ ته ايمان، قرآن او خپل رحمت هم راعطا کړو نو هغه هم بغير د واسطې نه نهٔ بلکې دا ټول نعمتونه يـې مونږ ته د حُضُور سرورِ کائنات صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په وسيله باندې راعطا کړي دي- غرض دا چې په دې دُنيا کښې هيڅ کار هم بغير د وسيلې نه نهٔ کيږي ځکه چې اللّٰه پاک دا دُنيا **دَارُ الاَسبَاب** جوړه کړې ده- لهذا چې کله هم څهٔ کار کول وي ❁ کاروبار کول

وي ❁ تعلیم حاصلول وي ❁ د وادهٔ ښادۍ معامله وي ❁ خپل کور جوړول وي یا اخستل وي، که هر یو کار کول وي، که پهٔ هغې کښې کامیابي او مستقل کامیابي غواړې نو د هٔغه کار کولو نه مخکښې الله پاک ته د نزدې کیدو وسیله ولټوئ، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیْم! کامیابي به مو نصیب کیږي- بیا الله پاک فرمائي:

وَ جَاهِدُوْا فِیْ سَبِیْلِهٖ | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: او د هغهٔ پهٔ لاره کښې جهاد وکړئ-

**دا د کامیابۍ دریم اُصُول دے:** د الله پاک پهٔ لار کښې ښهٔ ډیر کوشش کول- دا د کامیابۍ هٔغه اهم اُصُول دے چې د دې نه بغیر کامیابي هډو شروع کیږي نهٔ-

دلته د ډیرو خلقو دا نفسیات وي چې هغوئي غواړي چې بس چت کولاو شي، چرته د اسمان نه کامیابي راپریوځي او سیدها زمونږ ښپو ته راورسي، د چا صاحبِ نظر پهٔ ما باندې نظر پریوځي او زهٔ پهٔ لږ ساعت کښې د دُنیا کامیاب ترین اِنسان جوړ شم--!! دا صرف یو خوب دے، بعضې وخت د الله پاک د یو نیک بنده نظر هم وَشي، هٔغه یو نظر دُنیا او اخرت هم ټیک کړي خو دا کله نا کله کیږي، عام حالات هم دا دي چې د کامیابۍ حاصلولو د پاره مونږ ته محنت کول پکار وي، لهذا که کامیابي غواړئ نو ښهٔ ډیر محنت وکړئ او دا محنت پهٔ کوم انداز کول دي؟ فرمائي:

فِیْ سَبِیْلِهٖ | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: د الله پهٔ لار کښې-

د محنت کولو د پاره هم مختلفې زاویې وي، څهٔ خلق د ګناهونو نه پهٔ ډکو کارونو کښې محنت کوي، څهٔ خلق پهٔ فضولیاتو کښې محنت کوي، بعضې خلق محنت کوي خو د هغوئي مقصد صرف مال، دولت، د دُنیا عزت او شهرت او نوم ګټل وي- پهٔ دې باندې هم بعضې وخت کامیابي خو میلاوُیږي خو هغه عارضي کامیابي وي، تر څو پورې چې ساه ګانې رواني دي، کامیابي ده، څنګه چې ساه ګانې ودریږي، سترګې پټې شي، رُوح د تن نه جدا شي نو ټول عزت، شهرت، نوم، مال، دولت، پیسه هر څهٔ ختم شي--!! هٔغه عارضي کامیابي ختمه

شي- ځکه که کامیابي غواړی او مستقل کامیابي غواړی نو محنت وکړئ، ضرور یې وکړئ خو داسې یې وکړئ کوم چې د رَبّ په لار کښې وي ❁ په هغه محنت کښې نیت ښۀ وي ❁ په زړۀ کښې اِخلاص وي ❁ د الله پاک رضا ترینه مقصد وي ❁ په زړۀ کښې د اخرت فکر وي ❁ جنَّت ته د تللو شوق وي، بیا تاسو محنت وکړئ، په ښو کارونو کښې محنت وکړئ، په دُنیا او په اخرت کښې د کامیابۍ موندلو والا کارونو کښې محنت وکړئ- کله چې په دې انداز کښې د اخرت د فِکر سره، د ښو ښو نیتونو سره، په زړۀ کښې اِخلاص کیږدی او محنت وکړی نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم!داسې کامیابي به نصیب شي چې صرف په دُنیا کښې نۀ بلکې په قبر او حشر کښې به هم پکار راځي-

## اِنعام هم میلاؤ شو او سزا هم میلاؤ شوه

یو ځل د خلیفه هارون الرشید دربار ته یو کَس راغلو او هغۀ د خپلو کمالاتو د ښودلو اجازت وغوښتو، هغۀ ته اجازت ورکړے شو، هغه په انګړ(صحن) کښې یوه ستن ودروله او لرې لاړو او په بله ستنه یې پرې ګُزار اوکړو، دا ستن د ودرولےشوې ستنې په سوري کښې ووتله- خلقو د هغۀ په دې مهارت لیدلو هغۀ له ښۀ شاباسے ورکړو- خلیفه هارون الرشید هم دا تماشه ولیدله، بیا یې حکم وکړو: دې ځوان له دې 10 دیناره انعام ورکړے شي او ورسره دې 10 کوړې هم ووهلے شي-

دا ډیره نا اشنا خبره وه، اِنعام هم ورکړے کیږي او سزا ورته هم اورولے کیږي- درباریانو ډیر په حیرانتیا سره د دې د وجهې پوښتنه وکړه نو خلیفه ووئیل: اِنعام په دې خبره چې دا ډیر ذهین دے او دۀ د دې کمال ښودلو د پاره ښۀ محنت او مشق کړے دے خو دۀ خپل دماغ او محنت په یو فضول خیز کښې لګولي دي، ځکه دا د سزا هم حقدار دے-[1]

---

1...علم اور علماء کی اہمیت، صفحہ:18-

دلته هم بعضې خلق په داسې کارونو کښې محنت کوي، کار بالکل فضول دے، بے فائدې دے، نه په هغې کښې د دُنیا څه فائده شته او نه پکښې د اخرت خو په هغې کښې محنت داسې کوي چې ډیر ښه ښه خلق په هغې باندې رشک کوي- د داسې محنت هیڅ فائده نشته، محنت په هغه کارونو کښې وکړئ کوم چې په دُنیا کښې هم کامیابي درکړي او په اخرت کښې مو هم د بېړۍ پورې وتلو سبب جوړ شي- څکه محنت کوئ! فِیْ سَبِیْلِهٖ یعنې د الله پاک په لاره کښې!

دا درې اُصول دي: (1): تقوىٰ (2): وسیله (3): محنت فِیْ سَبِیْلِ الله- دا 3 اُصول چې اِختیار کړئ نو څه به میلاؤېږي؟ الله پاک فرمائي:

لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ﴿۳۵﴾ | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: په دې اُمید چې تاسو کامیابي بیامومئ-

❁ په دُنیا کښې ❁ په اخرت کښې ❁ په دې ژوند کښې ❁ د مرګ نه پس والا ژوند کښې ❁ د ژوند په هر میدان کښې ❁ په قبر کښې ❁ په حشر کښې ❁ په میزان باندې ❁ په پل صِراط باندې په هر ځائے کښې به مو کامیابي نصیب شي-

## وسیله څه ده؟

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د کامیابۍ دا درې اُصول هم په خپل ځائے باندې ډیر اهمیت لري، البته په دې کښې یو اُصول په کوم کښې چې عام طور غفلت کولے شي او بعضې خلق خو په دې لړ کښې د وسوسو هم ښکار کیږي، هغه اُصول دے: وسیله- په دې آیت مبارک کښې الله پاک صفا صفا اِرشاد فرمائیلے دے:

وَ ابْتَغُوْۤا اِلَیْهِ الْوَسِیْلَةَ | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: او د هغهٔ طرف ته وسیله ولټوئ-

د وسیلې معنیٰ ده: کُلُّ مَایُتَوَسَّلُ بِهٖ اِلَی اللهِ یعنې هر هغه څیز یا کار د کوم په ذریعه چې د

الله پاک قُرب حاصل کړے شي- [1] مثلاً ❁ پۀ نـمونځ کولو سره د الله پاک قُرب حاصليږي، ځکه دا هم وسيله ده ❁ پۀ روژه نيولو د الله پاک قُرب حاصليږي، دا هم يوه وسيله ده ❁ د زکوٰة پۀ ورکولو ❁ د صدقې او خيرات پۀ کولو ❁ پۀ حج ❁ پۀ عمره ❁ پۀ تلاوت ❁ د ذِکر او درود پۀ ذريعه ❁ غرض د هر يو نيک کار پۀ ذريعه د الله پاک قُرب حاصليږي،لهذا هر نيک کار يوه وسيله ده، هم داسې ❁ د الله پاک د نيکانو بندګانو پۀ ادب کولو ❁ د هغوئي سره پۀ محبت کولو ❁ د هغوئي پۀ بارګاه کښې پۀ حاضرۍ کولو ❁ د هغوئي پۀ زيارت کولو ❁ د هغوئي پۀ ذِکر کولو د الله پاک رحمتونه نصيب کيږي، زړۀ روښانه کيږي، د زړۀ تور والے لرې کيږي او د الله پاک قُرب نصيب کيږي، لهذادا د الله پاک نيکان بندګان، نبيان، وليان ټولې وسيلې دي او مونږ له حکم راکړے شوے دے چې

وَ ابْتَغُوْۤا اِلَیْهِ الْوَسِیْلَةَ | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: او د هغه طرف ته وسيله ولټوئ-

يعنې د الله پاک پۀ حُضُور کښې وسيله ولټوئ! که مونږه وسيله ولټوو نو څۀ به ميلاؤيږي؟ فرمائي:

لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ (۳۵) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: پۀ دې اُميد چې تاسو کاميابي بياموميٰ-

معلومه شوه چې ❁ کله هم څۀ سخته راشي ❁ پريشاني راشي ❁ مصيبت راشي ❁ بيماري راشي ❁ قرض داري راشي ❁ مونږ څۀ اهم کار کول غواړو ❁ کور جوړول يا اخستل غواړو ❁ کاروبار شروع کول غواړو ❁ تعليم حاصلول غواړو ❁ انټرويو ورکولو له ځو ❁ زمونږ څۀ جائز خواهش دے، مونږ يـې پوره کول غواړو ❁ څۀ نيک ارمان مو دے، هغه حاصلول غواړو، غرض دا که هر قِسمه د دُنيا يا د اخرت کار دے،

---

1...تفسير سمعانی، پاره:15، الاسراء، زيرِ آيت:57، جلد:3، صفحه:351۔

مونږ پۀ هغې کښې کامیابي غواړو نو د الله پاک پۀ بارګاه کښې وسیله ضرور پیش کړئ- د نیک اعمالو وسیله هم پیش کیدے شي، مثلاً ❁ د نوي کور پرانسته کول دي، پۀ هغې کښې د قرآن پاک ختم وکړئ ❁ سحر د کار د پاره ووځئ نو مسنون دعاګانې ولولئ، درود شریف ولولئ ❁ څوک بیمار شوے دے، ډاکټر له ځي نو د هغې نه مخکښې صدقه ورکړئ، داسې د څۀ نا څۀ نیک کار وسیله ضرور اونیسئ، د دې پۀ برکت به اِنۡ شَآءَ اللہُ الۡکَرِیۡم! کامیابي نصیب شي-

## د غار نه نجات څنګه حاصل شو---؟

تاسو یقین وکړئ چې وسیله دومره د کمال څیز دے چې بعضې وخت داسې کارونه کوم چې پۀ ظاهره ډیر مشکل بلکې ناممکنه پۀ نظر راځي، د وسیلې پۀ برکت داسې مشکلات هم حل کیږي- پۀ **بُخاري شریف** کښې **حدیثِ پاک** دے، زما او ستاسو خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د مخکښینو اُمتونو د درېو کسانو واقعه بیان کړه، واقعه لږه شان اوږده ده زۀ یې لږه شان مختصر عرض کووم- درې کسان وو، هغوئي چرته روان وو، پۀ لاره کښې تیز باران شروع شو، هغوئي د باران نه د بچ کیدو د پاره یوغار ته ننول، هغوئي پۀ غار کښې دننه وو، بهر تیز باران وریدو، پۀ دغه وخت کښې یوه غټه ګټه راونړیدله او د غار خُلې له راغله، غار بند شو، دننه پکښې تیارۀ شوه---!! بهر د راوتلو لاره هم نۀ وه- ډیر پۀ مشکل کښې راغلل، بیا هغوئي یو بل ته ووئیل: تر ننه پورې چې مو څومره نیک اعمال کړي دي، ستاسو پۀ نظر کښې چې پۀ هغې کښې کوم د ټولو نه افضل عمل وي، د الله پاک پۀ بارګاه کښې د هغې وسیله پیش کړئ! نو ❁ پۀ دې کښې یو د مور او پلار د خِدمت والا نیکۍ وسیله پیش کړه او دُعا یې وکړه: فَافۡرُجۡ عَنَّا فُرۡجَةً نَرٰی مِنۡهَا السَّمَآءَ یعنې اے الله پاکه! زما د مور او پلار د خِدمت والا نیکۍ پۀ برکت دا ګټه دومره لرې کړې چې مونږ اسمان ووینو- څنګه چې هغۀ د نیک عمل وسیله وړاندې کړه او دُعا یې وکړه نو هغه

وخت ګټه لږه شان وخوزيدله او اسمان پهٔ نظر راغلو ❁ بيا دويم کَس خپله د الله پاک د ويرې او د حيا والا نيکۍ وسيله پيش کړه او اوئې وئيل: فَافۡرُجۡ عَنَّا فُرۡجَةً يعنې اے الله پاکه! زما د دې نيک عمل پهٔ برکت سره دا ګټه نوره هم لرې کړې- نو ګټه نوره وخوزيدله ❁ بيا دريم کَس خپله د امانت دارۍ والا نيکۍ وسيله وړاندې کړه او دُعا يــې وکړه: فَافۡرُجۡ عَنَّا يعنې اے الله پاکه! زما د دې امانت دارۍ پهٔ وسيله دا ګټه نوره لرې کړې- څنګه چې هغهٔ دُعا وکړه نو زما خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائې: فَكُشِفَ عَنۡهُم يعنې هُغه ګټه کومې چې د غار خُله بنده کړې او هغوئې يــې قيد کړي وو، د هغوئې د نيک اعمالو د وسيلې پهٔ برکت هُغه ګټه لرې شوه (او دا ټول پهٔ خپله لاره باندې روان شول)- [1]

سُبۡحٰنَ الله! دا دے د وسيلې برکت--!! لهذا چې کله هم څهٔ مشکل وي، پريشاني وي، مصيبت وي، تنګدستي وي، څهٔ کار کول غواړې، پهٔ يو ميدان کښې کاميابي غواړې نو نيک کارونه کوئ، د خپلو نيکو اعمالو پهٔ وسيله وړاندې کولو، د انبيائے کرامو عَلَيۡهِمُ السَّلَام، اوليائے کرامو رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡهِم خاص طور د نبي الانبياء، رسولِ خُدا، احمدِ مجتبىٰ صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وسيله پيش کوئ او دُعا کوئ، د الله پاک پهٔ حُضُور کښې حاضريږئ، اِنۡ شَآءَ اللهُ الۡكَرِيۡم! کاميابي به مو نصيب کيږي-

## د نيکانو خلقو وسيله هم پيش کوئ!

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! لکه څنګه چې د نيک اعمالو پهٔ وسيله پيش کولو کاميابي نصيب کيږي، هم داسې د نيکانو خلقو پهٔ وسيله پيش کولو هم ډير برکتونه نصيب کيږي- پهٔ قرآنِ کريم کښې دي:

1...بخاری، کتاب الادب، باب اجابة دعاء من...الخ، صفحه:1492 1493، حديث:5974 خلاصةً-

| | |
|---|---|
| وَ كَانُوْا مِنْ قَبْلُ يَسْتَفْتِحُوْنَ عَلَى الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ۚ (پارہ:1، سورۃالبقرۃ:89) | ترجمۂ کنزُالعِرفان: او د دې نه مخکښې به دوئي هُم د دې نبي پۀ وسيله د کافرانو خلاف فتح غوښتله- |

دا د يهوديانو عمل بيانيږي، **پۀ روايتونو کښې دي:** کله چې زمونږ خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم لا دُنيا ته تشريف نۀ وو راوړے، يهوديانو پۀ اسماني کتابونو کښې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ذِکر لوستلے وو، نو کله چې به هم څۀ جنګ ته مخامخ کيدل نو دوئي به د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وسيله پيش کوله او دُعا به يې کوله نو د دوئي به پۀ هر ميدان کښې فتح نصيب کيدله- (1)

سُبْحٰنَ الله! څومره ښکلے شان دے زمونږه د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم--!! لا هغوئي دُنيا ته تشريف هم نۀ وو راوړے، د هغې نه مخکښې هم د هغوئي د نوم مبارک داسې برکتونه وو چې د هغوئي پۀ وسيله به دُعاګانې قبليدلې---!! واه! څومره ښکلے شان دے---!! څکه خو مونږ وايو:

آنکھوں کا تارا نامِ مُحَمَّد — دِل کا اُجالا نامِ مُحَمَّد
دولت جو چاہو دونوں جہاں کی — کر لو وظیفہ نامِ مُحَمَّد
پائیں مرادیں دونوں جہاں میں — جس نے پُکارا نامِ مُحَمَّد (2)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د دُنيا د ټولو نه ورومبۍ کاميابي څنګه حاصله کړے شوه؟

تاسو ته يوه ايمان تازه کوونکې خبره وکړم! اِنسان چې کله دې دُنيا ته راغلو، کله چې يې پۀ دُنيا باندې قدم کيښودو نو پۀ دې زمکه باندې چې د انسان د ټولو نه ورومبۍ کومه

---

1...تفسير درمنثور، پاره:1، البقرة، زير آيت:89، جلد:1، صفحه:216-

2...قبالۂ بخشش، صفحه:133 134 ملتقطًا-

کاميابي نصيب شوې وه، هغه هم د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د نوم په وسيله باندې نصيب شوې وه- آو جي! په **حديثِ پاک** کښې دي او دا حديثِ پاک اِمامِ حاکِم، اِمامِ بيهقي او نورو ډيرو محدثينو ذِکر کړے دے، د حديثِ پاک خُلاصه دا ده چې د حضرت آدم عَلَیْہِ السَّلَام نه چې په جنَّت کښې هُغه کوم لغزش [يعني په هير کښې تير وتنه] شوې وه (هغه ګناه نۀ وه، غلطي نۀ وه بلکې يو لغزش وو خو

جن کے رُتبے ہیں سِوا، ان کی سِوا مشکل ہے

څوک چې د لويو مرتبو والا وي، هغوئي خپل معمولي لغزش هم کم نۀ ګڼي، خير! الله پاک حضرت آدم عَلَیْہِ السَّلَام په زمکه کښې خپل خليفه جوړ کړے وو، نو هغوئي زمکې ته راکوز کړے شو)، بيا به حضرت آدم عَلَیْہِ السَّلَام ته د خپل دې لغزش په وجه د الله پاک نه ډيره حيا ورتلله (په بغضو روايتونو کښې دي: هغوئي په دې وجه د 300 کالو پورې ژړل [(1)]) اخر هغوئي د الله پاک په بارګاه کښې عرض وکړو: **اے الله پاکه! ما د مُحَمَّد صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په وسيله باندې معاف کړې-**

بس چې څنګه يې د خوږ محبوب صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وسيله پيش کړه، الله پاک د هغوئي لغزش [يعني په هير کښې تير وتنه] معاف هم کړه او ورسره يې وفرمائيل: اے آدمه! **لَوْلَا مُحَمَّدٌ لَمَا خَلَقْتُكَ** که (زما محبوب) مُحَمَّد صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نۀ وے نو ما به تۀ هم نۀ وے پيدا کړے- [(2)]

نوح و خلیل و موسیٰ و عیسیٰ | سب کا ہے آقا نام مُحَمَّد
دونوں جہاں میں دنیا ودیں میں | ہے اک وسیلہ نام مُحَمَّد

1...تفسير درمنثور، البقرة، زير آيت:36، جلد:1، صفحه:142-

2...مستدرك، كتاب آيات رسول الله...دلائل النبوة، باب استغفار آدم...الخ، جلد:3، صفحه:517، حديث:4286 خلاصةً-

شیدا نہ کیوں ہو اس پر مسلماں | رب کو ہے پیارا نام مُحَمَّد[1]

سُبْحٰنَ الله! د دې نه یو خو دا معلومه شوه چې پهٔ دُنیا کښې اِنسان ته د ټولو نه وړومبۍ کامیابۍ هُم د وسیلې پهٔ برکت میلاؤ شوې ده، دویم دا هم معلومه شوه چې د الله پاک د مقبول بندګانو پهٔ وسیله، بحقِّ فلانکې وئیلو سره دُعا کول د اَبُو البَشَر حضرت آدم عَلَیْهِ السَّلَام سُنَّت دې-[2]

## د وسیلې پیش کولو تعلیم

پهٔ اِبنِ ماجه شریف کښې حدیثِ پاک دے او دا حدیث اِمام ترمذي هم روایت کړے دے، صحابئ رسول حضرت عثمان بن حنیف رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فرمائي: یو ځل یو نابینا صحابي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ بارګاهِ رسالت ته حاضر شو، عرض یې وکړو: اے خوږه محبوبه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! د الله پاک پهٔ بارګاه کښې دُعا وکړئ چې زما سترګې ټیک شي-

(سُبْحٰنَ الله! معلومه شوه چې د صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنْھُم عقیده وه چې یقیناً دُعا الله پاک اوري، د ټولو اوري خو لکه څنګه چې د خپل خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوري، داسې د چا نهٔ اوري--!!)

اس کی بخشش، ان کا وسیلہ | دیتا وہ ہے، دِلاتے یہ ہیں

خیر! صحابئ رسول رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د دُعا درخواست وکړو، خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د هغوئي د پاره یواځې دعا اونکړه بلکې پهٔ مونږ غلامانو باندې یې کرم وکړو او دُعا یې راته وښودله د پاره د دې چې تر قیامته پورې د هغوئي غلامان د دې دُعا نه برکتونه حاصلوي- نو نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائیل: پهٔ ښه طریقه اودس وکړه! بیا 2 رکعته نـمونځ وکړه! بیا داسې دُعا وکړه!

1...قبالۂ بخشش، صفحہ:134۔

2...تفسیر صراط الجنان، پارہ:1، البقرۃ، زیر آیت:37، جلد:1، صفحہ:108۔

اللّٰھُمَّ اِنِّیْ اَسْئَلُكَ، وَاَتَوَجَّهُ اِلَیْكَ بِمُحَمَّدٍ نَبِیِّ الرَّحْمَةِ، یَا مُحَمَّدُ اِنِّیْ قَدْ تَوَجَّهْتُ بِكَ اِلٰی رَبِّیْ فِیْ حَاجَتِیْ هٰذِهٖ لِتُقْضٰی، اَللّٰهُمَّ فَشَفِّعْهُ فِیَّ

اے الله پاکه! زهٔ ستا نه سوال کووم او ستا د محبوب، نبي رحمت حضرت مُحَمَّد صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پهٔ وسیله ستا پهٔ حضور کښې متوجه یم، اے مُحَمَّد صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! زهٔ ستاسو پهٔ وسیله باندې د خپل رَبّ پهٔ حضور کښې متوجه یم چې زما حاجت پوره شي- اے الله پاکه! زما پهٔ حق کښې د نبي کریم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سفارش قبول کړې- (1)

حضرت عثمان بن حنیف رَضِیَ اللہُ عَنْہُ فرمائي: هٰغه صحابي د هٰغه ځائے نه پاڅیدو، اودس یې وکړو، 2 رکعته نـمونځ یې ادا کړو، بیا یې د خوږ آقا، محبوبِ خُدا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ښودلے شوې دُعا وکړه، مونږ لا هلته ناست وو چې هغه واپس هم راغلو خو واه! سُبْحٰنَ الله! کله چې تلے وو نو نا بینا وو او چې کله واپس راغلو نو كَاَنَّهُ لَمْ يَكُنْ بِهٖ ضُرٌّ قَطُّ بیا داسې وو لکه هغوئي ته چې هیڅ تکلیف هم نهٔ وو- (2)

سُبْحٰنَ الله! دا دے د وسیلې برکت---!! دا مبارک نـمونځ کوم چې رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هٰغه صحابي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ ته ښودلے وو، دې ته **د حاجت نـمونځ** وئیلے شي- دا تجربه شوے عمل دے ❀ که هر څنګه مشکل وي ❀ پریشاني وي ❀ مصیبت وي ❀ هر قِسمه جائز خواهش ❀ ارمان ❀ ارزو نهٔ پوره کیږي ❀ پهٔ اِمتحان کښې کامیابي غواړې ❀ قرض ورکول وي ❀ شِفا غواړې ❀ نـمونځونو ته مو ډېر نهٔ لګي ❀ ګناه پریښودل او نیک بنده جوړیدل وي، غرض که د دِین او د دُنیا هر قِسمه حاجت هم وي، نو

---

1...ابن ماجه، کتاب اقامة الصلاة والسنة فيها، باب ما جاء فی الصلاة الحاجة، صفحه:224، حدیث:1385۔

2...معجم کبیر، جلد:4، صفحه:415، حدیث:8232۔

تازه اودس وکړئ، دوه رکعته نـمونځ ادا کړئ، د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ وسيله باندې، د هغوئي د ښودلے شوې طريقې مطابق دُعا وکړئ، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! هر حاجت به مو پوره شي-

## د خيټې ننکۍ [غټه دانه] يـې فوراً ټيک شوه

اِمام اِبنِ اَبِي الدُّنيا رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليکلي دي: يو ځل يو ګس د عبد الملک بن حيان خوا له راغلو، عبد الملک د هغه خِيټه چيک کړه، د چيک کولو نه پس يـې ووئيل: ستا داسې بيماري ده د کومې چې هيڅ عِلاج نشته (يعنې اوسه پورې د دې بيمارۍ علاج نهٔ دے پيدا کړے شوے)- هُغه ګس پريشانه شو او پوښتنه يـې وکړه چې څهٔ بيماري ده؟ اوئې وئيل: ستا دُبَيلَه ده (يعنې ستا پهٔ خِيټه کښې غټه دانه ده، کيدے شي چې نن سبا دې ته کينسر وئيلے کيږي)- بيا چې هُغه ګس دا خبره واوريدله نو ډير پريشانه شو او واپس لاړو، لاړو او د الله پاک پهٔ حضور کښې حاضر شو او عرض يـې وکړو: اللهُ! اللهُ! رَبِّيْ لَاأُشْرِكُ بِهٖ اَحَدًا! يعنې د الله پاک پناه! د الله پاک پناه! هغه زما رَبّ دے، ما د هغهٔ سره څوک هم شريک نهٔ دے ګرځولے- بيا هغه هم هُغه دُعا وکړه:

اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اَتَوَجَّهُ اِلَيْكَ بِنَبِيِّكَ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، نَبِيِّ الرَّحْمَةِ، يَا مُحَمَّدُ اِنِّيْ اَتَوَجَّهُ بِكَ اِلٰى رَبِّكَ وَرَبِّيْ اَنْ يَرْحَمَنِيْ مِمَّا بِيْ

اے الله پاکه! زهٔ ستا پهٔ حُضور کښې ستا د نبي، د رحمت والا نبي، حضرت مُحَمَّد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ وسيله متوجه شوے يم، اے مُحَمَّد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! زهٔ ستاسو پهٔ وسيله باندې د خپل رَبّ پهٔ حضور کښې متوجه يم چې هغه زما دې بيمار حالت ته د رحمت نظر وفرمائي-

اِمام اِبنِ ابي الدُّنيا رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليکلي دي: هُغه ګس د دې دُعا کولو نه پس بيا راغلو،

عبد الملک بن حیان بیا د هغهٔ خِیټه چیک کړه نو پهٔ حیرانتیا سره یې ووئیل: مَابِكَ عِلَّةٌ اوس ستا هیڅ مرض نشته۔ (1)

سُبْحٰنَ الله! څومره مُجَرَّبه نُسخه ده۔ مونږ هم دا نُسخه اِختیارولے شو، که څهٔ مشکل وي، څهٔ پریشاني وي، هر قِسمه سخته وي، د الله پاک پهٔ حُضُور کښې حاضر شئ او د محبوبِ کریم صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وسیله پیش کړئ! د هغوئي ښودلے شوې دُعا وکړئ! اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِیم! کامیابي به مو نصیب شي۔ د حاجت پهٔ دې نـمونځ کولو او دُعا کولو کښې بس د دې یوې خبرې خیال ساتئ چې رسولِ ذِیشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د یَا مُحَمَّد پهٔ اواز سره رابلل منع دي۔ داسې قِسمه دُعاګانې کومې چې پهٔ حدیثونو کښې راغلې دي او پهٔ هغې کښې یَا مُحَمَّد لفظ هم راغلے دے، علمائے کرام فرمائي: پهٔ داسې ځایونو کښې ادب دا دے چې مونږ د یَا مُحَمَّد پهٔ ځائے یَا رَسُولَ الله ووایو۔ (2) ظاهره ده چې مونږ وارهٔ خلق یو، مونږ خو نبي کریم صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ نوم اخستو سره نشو راېللے! مونږ ته خو ادب کول پکار دي او ادب پهٔ دې کښې دے چې رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ نوم باندې د راېللو پهٔ ځائے پهٔ مختلفو ښکلو ښکلو لقبونو سره راوبللے شي۔ الله پاک دې مونږ ټولو ته د عِلم او د عمل او د ادب کولو توفیق راعطا کړي۔

اٰمِین بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم۔

## د اولیائے کرامو د تبرکاتو فیضان

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د قرآني آیتونو او د حدیثونو مبارکو نه دا خبره بالکل واضحه شوه چې د الله پاک پهٔ حضور کښې وسیله پیش کول بالکل جائز ده، د دې پهٔ برکت پهٔ هر میدان کښې کامیابي حاصلیږي۔ لکه څنګه چې د انبیائے کرامو عَلَیهِمُ السَّلام

1...موسوعه ابن ابي الدنیا، کتاب مجابي الدعوة، جلد:2، صفحه:379، رقم:127۔

2...فتاوی رضویه، جلد:30، صفحه:157 خلاصةً۔

وسیله پیش کول صحیح دي هُم داسې د اولیائے کرامو وسیله هم بالکل جائز او د برکتونو د حاصلولو ذریعه ده- اَلْحَمْدُلِلّٰه! د صحابهٔ کرامو عَلَیهِمُ السَّلام نه واخله تر اوسه پورې د ټول اُمت د عامو او د خاصو، علمائے ذِیشان او اولیائے کرامو معمول دا پاتې شوے دے چې دې حضراتو به د الله پاک پهٔ حضور کښې د اولیاءُ الله، د الله پاک د نیکانو بندګانو وسیله پیش کوله او برکتونه به یې حاصلول بلکې پخپله د اولیائے کرامو شان خو اوچت دے، د هغوئي د تبرکاتو هم ځانګړې شانونه دي- سلطان محمود غزنوي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه ډیر مشهور بادشاه دے، ډیر نیک انسان وو، یو ځل خواجه ابو الحسن خرقاني رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه هغوئي ته خپلې جامې ورکړې او اوئې فرمائیل: پهٔ سخت وخت کښې د دې جامو د وسیلې نه کار اخله- نو سلطان محمود غزنوي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه دا مبارکې جامې سمبالې کیښودې، کله چې سلطان محمود غزنوي د هندوستان فتح کولو د پاره تشریف راوړو نو د یوې قلعه پهٔ فتح کښې کولو کښې د مشکل سره مخ شو، ډیرې ورځې یې تیرې کړې، کله چې هغوئي وکتل چې د فتح اوس هیڅ اُمید باقي نهٔ دے نو سلطان محمود غزنوي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه د خواجه ابو الحسن رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه د هٰغه جامو پهٔ وسیله دُعا وکړه، بس چې څنګه یې دُعا وکړه نو د غیر مسلمو لښکر بے اتفاقه شو، د هغوئي طاقت کمزورے شو او هغوئي د هٰغه ځائے نه وتښتیدل- د قلعه فتح کولو نه پس چې کله سلطان محمود غزنوي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه د شپې اودهٔ شو نو خواجه ابو الحسن رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه ورله پهٔ خوب کښې تشریف راوړو او اوئې فرمائیل: محموده! تا زمونږ د جامو هیڅ قدر اونکړو، که تا د فتح پهٔ ځائے دا دُعا کړې وے چې هٰغه ټول غیر مسلمه کلمه ولولي او مسلمانان شي نو هغوئي ټول به مسلمانان شوي وو- (1)

جو ہو اللہ کا ولی اُس کا | فیض دنیا میں عام ہوتا ہے

1...تذکرۃ الاولیاء، صفحہ:339 خلاصۃً۔

بے سبب بخشش اُس کی ہو جس پر | فضلِ ربِّ الاَنام ہوتا ہے(1)

سُبْحٰنَ الله! چې دا د اولیائے کرامو د تبرکاتو شان دے نو بیا به د هغوئي د خپل ذات څومره ښکلے شان وي- ځکه مونږ له پکار دي چې په هر یو میدان کښې، په هر کچ، په هر لحاظ ښه، نیک او جائزه کامیابي غواړو نو د الله پاک په حضور کښې وسیله وړاندې کړو، نیک کارونه وکړو، د نیکانو خلقو، د نبیانو، د ولیانو په وسیله باندې دُعا وکړو، اِنْ شَآءَاللهُ الْکَرِیم! د دې به مو ډیر برکتونه نصیب شي او که الله پاک وغوښتل نو په هر میدان کښې به مو کامیابي نصیب شي-

## د پیر ضرورت او اهمیت

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! الله پاک فرمائي:

وَ ابْتَغُوْۤا اِلَیْهِ الْوَسِیْلَةَ | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: او د هغه طرف ته وسیله ولټوئ-

د دې آیت لاندې مفسرینِ کرامو یو مَدَني ګل دا هم ورکړے دے چې کوم بنده د الله پاک قُرب حاصلول غواړي، د نیکې لارې د مسافر جوړیدو او د الله پاک په حضور کښې د اوچتې مرتبې خواهش لري نو په هغهٔ لازم دي چې **د پیر وسیله** اِختیار کړي چې د پیر نه بغیر په دې لار کښې کامیابي نهٔ حاصلیږي-(2)

گُرْ هَوَائے اِیْں سَفَرْ دَارِیْ دِلَا | دَامَنِ رَهْبَرْ بَگِیْرَوْ پَسْ بِیَا

اے زړهٔ! که چرې تهٔ د دې سفر خواهش لرې نو د یو لار ښودونکي لَمَن اونیسه نو بیا راشه-

1...وسائل بخشش، صفحه: 441 ملتقطًا-

2...تفسیر کبیر، پاره: 6، المائده، زیر آیت: 35، جلد: 4، صفحه: 349 خلاصةً-

گَرْ رَوِی صَدْ سَال دَرْ رَاهِ طَلَبْ | رَاهْبَرْ نَبَوَدْ چِهْ حَاصِلْ زَاں تَعب

که تۀ د طلب پۀ لاره باندې 100 کاله روان يې، لار ښودونکے که چرې نۀ وي نو د دې خوارۍ څۀ فائده!

بے رَفِيْقے هَرْ کِهْ شُدْ دَرْ رَاهِ عِشْق | عُمْرْ بِگْذَشْت وَنَشُدْ آگَاهِ عِشْق[1]

د پير نه بغير چې څوک د عشق پۀ لار باندې روان شو پۀ هغۀ عمر تير شو خو هغه د عشق نه خبر نۀ شو۔

## چې هر څۀ پۀ قِسمت کښې ليکلے شوي دي نو پير ولې---؟

حُضُور داتا گنج بخش علي هجويري رَحْمَةُاللهِعَلَيْه ډير لوئي کامِل ولي دے، هغوئي ته گنج بخش (يعني خزانې ورکوونکے) او فيضِ عالَم (يعني جهان ته فيض ورکوونکے) وئيلے شي۔ هغوئي د شيخ ابو الحسن خُتَّلي رَحْمَةُاللهِعَلَيْه مُريد وو، فرمائي: يو ځل زما پير صاحب اودس کولو او ما اوبۀ وراچولې، ناڅاپه زما پۀ زړۀ کښې خيال راغلو چې هر څۀ پۀ قِسمت کښې ليکلے شوي دي نو بيا خلق د پير غُلامي ولې کوي---؟ دا خيال د هغوئي صرف پۀ زړۀ کښې راغلے وو خو قربان شم! پير اخر پير وي، شيخ ابو الحسن خُتَّلي رَحْمَةُاللهِعَلَيْه وفرمائيل: ځويه! ستا د زړۀ په خيال زۀ پوهه شوم - بيا يې د هغوئي د دې وسوسې پۀ جواب ورکولو وفرمائيل: تا ته معلوميدل پکار دي چې د الله پاک د هر حکم د پاره څۀ سبب وي (يعني دا دُنيا دارُ الاَسبَاب ده، دلته چې څۀ هم کيږي، د اَسبابو لاندې کيږي)، لهذا چې کله الله پاک د يو سپاهي ځوي ته تاج او تخت عطا کول غواړي نو هغۀ ته د توبې توفيق عطا کړي او د خپل يو محبوب (يعني وليُّ الله) د خِدمت سعادت ورعطا کړي، بيا د دغه

---

1...فتاوىٰ رضويه، جلد:26، صفحه:583 ملتقطًا۔

خِدمت پۀ برکت هغۀ ته عزت او شان عطا کولے شي۔ (1)

## د پير ضروت هر چا ته دے

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! الله پاک فرمائي:

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَ ابْتَغُوْۤا اِلَيْهِ الْوَسِيْلَةَ (پارہ: 6، سورۃ المآئدۃ: 35)

ترجمهٔ کنزُ العِرفان: اے ايمان والؤ! د الله نه ويريږئ او د هغه طرف ته وسيله ولټوئ۔

د قرآنِ کريم مشهور مفسر، حکيم الاُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه د دې آيت لاندې فرمائي: پۀ دې آيت کښې د تقوىٰ نه پس د وسيلې لټولو حکم وکړے شو او ووئيلے شو چې يو پرهيزګاره د تقوىٰ يوې درجې ته پۀ رسيدو د وسيلې نه بے نيازه کيدے نشي، ځکه يو پرهيزګاره مسلمان دې دا نۀ ګڼي چې زۀ خو پرهيزګاره شوم اوس ما ته الله پاک ته د رسيدو د پاره د څۀ وسيلې ضروت نشته، لکه څنګه چې هر يو مؤمِن د اعمالو او تقوىٰ حاجت مند دے هم دغه شان هر يو پرهيزګاره د وسيلې (يعني پير) محتاج دے۔ (2)

اَللّٰهُ اَکۡبَر! معلومه شوه چې که انسان پۀ نيک اعمالو کولو هر څومره اوچت مقام ته هم رسيدلے وي، که هغه د الله پاک قُرب حاصلول غواړي نو هغه به ځانله څوک پير جوړوي ، د پير نه بغير پۀ دې لاره خپل منزل ته رسيدل تقريباً چې ممکن نۀ دي۔ وګورئ چې حُضُور غوثِ پاک رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه څومره لوئي وليُّ الله وو، هغوئي پيدائشي ولي دے، هغوئي دُنيا ته د تشريف راوړو سره د خپلې د دې دُنيا د ژوند پۀ وړومبۍ ورځ روژه ونيوله، څومره متقي او پرهيزګاره، عبادت ګزاره وو، د دې عزت او بزرګۍ باوجود هغوئي پير د پير بيعت اوکړو، داتا حُضُور رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه هم پيدائشي ولي وو، هغوئي هم د پير بيعت اوکړو، اعلیٰ حضرت، امامِ اهلِسُنَّت شاه امام احمد رضا خان رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه هم پيدائشي ولي وو، هغوئي هم

---

1... کَشْفُ الْمَحْجُوْب، صفحه: 245 بتغير قليل۔

2... تفسير نعيمی، پاره: 6، سورۀ مائده، زير آيت: 35، جلد: 6، صفحه: 394 ملتقطًا۔

د پير بيعت اوکړو، د دې نه علاوه هم تاسو د لويو لويو بزرګانو سيرت ولولئ، هغوئي ټولو د پيرانو بيعت کړے وو، هغوئي چې کله د داسې پير په لاس بيعت اوکړو کوم چې په شرائطو پوره وو نو هله د الله پاک د قُرب په لار روان شو او د ولايت اوچتې مرتبې ته ورسيدو-

## ځويه! بغير د پير نه هيڅ لار نشته

سلطان المَشائخ حضرت سلطان باهُو رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه خومره د اوچتې مرتبې وليُّ الله دے، هغوئي هم پيدائشي ولي وو او د هغوئي شان خو دا وو چې په ماشومتوب مبارک کښې به کله کوځې ته وتو نو غير مسلمو به هغوئي ته په کتو کلمه وئيله- (1)

سُبۡحٰنَ الله! دومره ښکلے شان يې وو، د دې باوجود چې هغوئي کله لږ لوئي شو نو مور بي بي يې ورته وفرمائيل: ځويه! تر څو پورې چې مو د کامِل پير لَمَن نۀ وي نيولې، تر هُغه وخته پورې معرفت نۀ شي حاصلولے- عرض يې وکړو: مور جانې! ما ته د ظاهر مرشد څۀ حاجت دے؟ زما پير خو پخپله حُضُور پر نُور صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے، مور بي بي يې هم کامِله وليه وه، اوئې فرمائيل: ځويه! ظاهري مُرشد هم ضروري دے، د هغۀ نه بغير د الله پاک معرفت ميلاؤيدل مشکل دي- نو سلطان باهُو رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د مور بي بي په حکم باندې لَبَّيک ووئيلو او د پير سيد عبد الرحمان جيلاني دهلوي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه په لاس باندې يې بيعت وکړو- (2)

سُبۡحٰنَ الله! خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! معلومه شوه چې که څوک کامِل دے او که ناقص، که د اوچتې مرتبې والا دے او که نۀ، نيک دے او که ګنهګار ټولو له پکار دي چې په شرائطو باندې د پوره پير په لاس بيعت لازمي وکړي، ځکه چې د الله پاک معرفت، د هغه د قُرب منزلونه هُم د پير په وسيله حاصليږي- لهذا چې چا اوسه پورې د کامِل پير په

---

1...مناقب سلطانی، فصل دوم، صفحه:21-

2...مناقب سلطانی، فصل سوم، صفحه:53 خلاصةً-

لاس باندې بيعت نۀ وي کړے نو د هغوئي د پاره مشوره ده چې ❀ د اوسني وخت د عظيم علمي او روحاني شخصيت، د کروړونو مريدانو کامِل پير ❀ پۀ اوسني وخت کښې پۀ ټوله دُنيا کښې د سُنَّت خوروونکي ❀ د کروړونو ژوند بدلوونکي ❀ د بے نمانځو د نمونځ ګزاره جوړوونکي ❀ پۀ ګنهګارانو توبه کوونکي ❀ د کروړونو خلقو د سُنَّتو نموني جوړوونکي ❀ د دُنيا پۀ ګنده د ګناهونو مجازي عشق کښې پۀ بے لارو د عشقِ رسول او ❀ د مدينے منورې د عشق د جامونو څښوونکي شيخ طريقت، امير اهلِسُنَّت، حضرت علّامه مولانا محمد اِلياس عطّار قادري رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه مُريد دې جوړ شي! اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه! شيخِ طريقت اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتۡ بَرَکَاتُهُمُ الۡعَالِيَه د حُضُور غوثِ پاک رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه پۀ سلسله کښې بيعت کوي يعني قادري، رضوي، عطّاري جوړوي او د حُضُور غوثِ پاک رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمانِ عالي شان دے چې زما يو مُريد به هم بغير د توبې نه نۀ مړ کيږي۔ [1]

الله پاک دې مونږ ته پۀ شرائطو باندې د پوره پير پۀ لاس د بيعت کولو او د نيکې لارې د مسافر جوړيدو، د الله پاک د قُرب د وسيلې د لټولو، د وسيلې د برکتونو حاصلولو او د دې پۀ ذريعه د دُنيا او د اخرت پۀ هر امتحان کښې د کاميابيدو سعادت راعطا کړي۔

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم۔

صَلُّوا عَلَى الۡحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## دارُ الاِفتّاء اهلسُنَّت ايپلي کيشن

د دعوت اسلامي ***I.T*** ډيپارټمنټ يو موبائيل ايپلي کيشن جاري کړے دے، د کوم نوم چې دے: ***Darul Ifta Ahlesunnat*** (دار الافتاء اهلسنت)۔ دا ايپلي کيشن پۀ ***Android*** او ***IOS*** دواړه قِسمه ډيوائسز کښې پۀ اسانۍ سره ډاؤن لوډ کيدے شي، پۀ دې ايپلي

---

1...بهجة الاسرار، ذکر فضل اصحابه و بشراهم، صفحه:191۔

کیشن کښې ❀ په مختلفو موضوعاتو د پوښتلے شوو سوالونو جوابونه په آډیو، ویډیو او لیکلي شکل کښې موجود دي ❀ د تجارت حکمونه ❀ فرض علوم کورس ❀ او تجارت کورس هم په دې ایپلي کیشن کښې شامل دے۔

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

د بیان په اخره کښې راځئ چې یوه شرعي مسئله زده کړو:

## صحیح څهٔ دي؟

(د صحیح شرعي مسئلې یا په خلقو کښې د پرتې غلط فهمۍ په ګوته کول)

**مسئله:** په تشهد (یعني په التحیات) کښې د شهادت د کلمې لوستلو په وخت د ګوتې په ذریعه اِشاره کول سُنَّت دي۔

**وضاحت:** بعضې خلق په التَحیات کښې د شهادت ګوتې له د سلام ګرځولو پورې حرکت ورکوي، دا صحیح طریقه نهٔ ده، صحیح طریقه دا ده چې کله نـمونځ کوونکے په التَحیات کښې د شهادت کلمې (اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا الله)ته ورسي نو د ښي لاس قچې ګوته او ورسره په خوا کښې ګوته دې راټوله کړي، د غټې ګوتې او مینځنۍ ګوتې حلقه دې جوړه کړي او په لَا باندې دې د شهادت ګوته اوچته کړي او په اِلَّا باندې دې واپس کیږدي او ټولې ګوتې دې د مخکښې په شان نیغې کړي۔ (1)

الله پاک دې مونږ ته د صحیح اِسلامي احکامو د زده کولو او په هغې باندې د عمل کولو توفیق راعطا کړي۔ اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم۔

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د اَسمَاءُ الـحُسنیٰ برکتونه (وظیفه)

---

[1]... بهارِ شریعت، جلد:1، صفحه:530، حصه:3 خلاصةً۔

## يَا جَلِيلُ

خوک چې 10 کرته **يَا جَلِيلُ** ولولي او مال او اسباب او پيسې وغيره پرې دم کړي نو د هغۀ مال به د غلا نه محفوظ وي- [1] اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِیم!

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

[1]...مدنی پنج سورہ، صفحہ:252۔